۱۴۴۶ هـ ق (شعبان ۲ ـ ۸ نېټه)
۱۴۰۳ هـ ل (سلواغه ۱۳ ـ ۱۹ نېټه)
۲۰۲۵ ز (فبروري ۱ ـ ۷ نېټه)

# حریت

خپلواکه او ناپېیلې اونیزه

۹۵ مه ګڼه



**افغانستان ته د ایران د بهرنیو چارو وزیر د سفر اقتصادي او سیاسي اهمیت**

د ایران د بهرنیو چارو وزیر ډاکتر سید عباس عراقچی، د افغانستان د اسلامي امارت چارواکو سره د خبرو اترو لپاره افغانستان ته سفر وکړ. دغه سفر په داسې حساس او ستراتیژیک وخت کې ترسره شو چې د دواړو ...

۱/ مخ



**هفت میخ دیگر بر تابوت صهیونیست**

رجب المرجب ١٤٤٦ هـ ق سنخگوی شاخه‌ی نظامی مجاهدین قسام، ابو عبیده حفظه الله خبری به نشر رساند که برای صهیونیستان به معنای پیروزی خیالی، ولی برای آزاده‌گان به معنای رسیدن به آرمان ابدی و پیک نابودی ...

۲/ مخ



**نړیوالې اړیکې د اسلامي قانون او معاصرو نړیوالو قوانینو پرتلیزه څېړنه**

د دوکتور وهبه الزحیلي رحمه الله لیکلی کتاب دی. دا کتاب محمد ظاهر عمار پښتو ته ژباړلی دی. په ۱۳۹۵ لمریز کال کې ګندهارا خپرندویه ټولنې چاپ کړیدی. ...

٤/ مخ

## سرمقاله

# د افغانیو ارزښت او ساتنه

نړۍ کې د اکثرو ملتونو اقتصادي تاریخ د ستونزو، کړاوونو او فشارونو تر سیوري لاندې تېر شوی. په دې ترڅ کې هغه ملتونه چې د اقتصادي استقلال لپاره یې متې بډ وهلي، تل د خپلو سترو او هڅو پرمټ بریا ترلاسه کړې.

افغانستان چې تل له اقتصادي ستونزو سره مخامخ پاتې شوی، اوس د یوې نوې دورې شاهد دی.

د اسعارو نوسانونه په ټوله نړۍ کې د بېلابېلو عواملو له امله رامنځته کیږي، خو له ښه مرغه د افغانیو ارزښت ساتنه او د اقتصادي ثبات ټینګښت د اسلامي امارت د پام وړ ستراتیژیو برخه ګرځېدلې.

په دې وروستیو کې د افغانستان بانک رییس نور احمد اغا، د صرافانو ټولنې استازو سره یوه کتنه وکړه او د افغانیو ارزښت ساتلو لپاره یې ځینې مهمې خبرې وکړې.

هغه وویل، چې د افغانیو مستحکم ارزښت ورکولو لپاره یې ټولې هڅې رواني کړي. د افغانیو ارزښت او ثبات لپاره د لیلام پروسې له لارې د اسعارو وراندې کول او د ځانګړو بازارونو رامنځته کول هغه اقدامات دي، چې د افغانستان بانک یې پلي کوي.

افغانۍ د افغانستان د اقتصاد اساسي ښنه ده. د دې ارزښت ساتنه د ملي ګټو پر بنسټ ولاړه ده. د افغانستان بانک د افغانۍ ارزښت د ټینګښت لپاره یوه ملي هڅه پیل کړې.

د اسعارو په بازار کې د ځانګړو پروسو رامنځته کول، د احتکار او قاچاق مخنیوي لپاره ځانګړې ستراتیژۍ او د اقتصادي ثبات لپاره مهم ګامونه اخیستل یې د پام وړ دي.

د ډالرو پر وړاندې افغانیو ټیټ – جګ کېدو ډېرې څارونکي اندېښمن کړي؛ مګر د افغانستان بانک رییس نور احمد اغا ډاډ ورکړی، چې د دې نوسانونو تر شا اقتصادي دلایل نشته او دا ډول بدلونونه یوازې د بازار د ځینو بې ثباتیو له کبله دي.

د افغانستان بانک د افغانۍ د ارزښت ساتلو لپاره یو بل مهم ګام د احتکار او د اسعارو قاچاق په مخنیوي کې دی. د اسلامي امارت له لوري د وروستیو فرمانونو په اساس هېڅوک د افغانستان له هوايي او ځمکنیو سرحدونو د ټاکل شوې اندازې څخه زیات ډالر نه شي وړلی. د دې فرمان له مخې، که څوک د دې کچې څخه زیات ډالر انتقال کړي، له سختو جزاوو سره مخ کیږي. دغه فرمان د ملي ګټو خوندي کولو او د غیرې قانوني فعالیتونو مخنیوي لپاره خورا مهم دی.

همدا راز، د افغانیو ارزښت ساتلو لپاره د صرافانو همکاري هم خورا اړینه ده. د افغانستان بانک ریس د صرافانو له ټولنې غوښتنه کړې، چې د اسعارو قاچاق او احتکار په مخنیوي کې خپل رول ادا کړي. صرافان د بازار د ثبات په ساتلو کې لویه ونډه لري او له هغوی سره همکاري د دې اقتصادي ثبات د ټینګښت لپاره یوه کلیدي مرحله ده.

د افغانستان بانک مسوولین هڅه کوي، چې څنګه وکولای شي د نړیوالو اقتصادي فشارونو پر وړاندې خپله اقتصادي خپلواکي وساتي؟

دوی د خپلې اقتصادي پالیسۍ ټینګښت لپاره جدي اقدامات ترسره کړي، خو دا چې افغانستان څنګه کولای شي په دغه ډول فشارونو کې خپل اقتصادي موقعیت وساتي؟

د دې پوښتنې ځواب زموږ په همغږۍ او ملي هڅو کې نغښتی.

د ملي هویت ساتنې لپاره ملي هڅو ته اړتیا ده، چې ټول افغانان په ګډه د اقتصادي خپلواکۍ ټینګښت لپاره د خپلې برخې ګام پورته کړي.

په داسې یو وخت کې چې افغانستان له داخلي او نړیوالو فشارونو سره مخامخ دی، د اسلامي امارت هڅې ښیي چې اقتصادي ثبات یوازې د داخلي همغږۍ او ملي ارادې پر بنسټ اړین دی.

افغانۍ زموږ ملي شتمني ده. د دې شتمنۍ د ساتلو ارزښت د ټول ملت د وقار څرګندونه کوي. هغه ملتونه چې خپل یووالی او وقار خوندي کړي، تاریخ د هغوی پانې په ویاړ لیکي. د افغانیو ژوندي ساتل د افغانانو راتلونکې روښانوي، چې دا یوازې د هوډ، ملي یووالي او ګډې ارادې له لارې شونې ده.

پای

اداره

پاتې برخه... ۳ مخ

# د محمد الضیف شهادت او حماس جهادي غورځنګ

لیکنه: احمدالله احمدزی

شهید محمد الضیف مخکې له دې، چې د اسرائیلي یرغلګرو له لوري د دښمن په توګه وپېژني او د وژنې لپاره مطلوب شي، نوموړی یو سیاسي فعال و، خو د حماس د پوځي څواک «عزالدین قسام لېواګانو» مخکښ مجاهد او بنسټګر سرتېری و.

د هغه د شخصیت په اړه ډېر معلومات نه خپرېدل او په ۲۰۰۲م کې د اسرائیلي یرغلګرو له لوري د هغه د ترور له هڅې وروسته یې تل ځان د رسنیو له سترګو پټ ساتلی و. یوازې د پوځي علمیاتو او مانورو پر مهال به پټ مخ ښکاره کېده، چې وروستی پلان شوې جګړه یې د اقصی توپان عملیات وو، چې د ۲۰۲۳ د اکتوبر په ۷مه پیل شوې او حماس جهادي غورځنګ یې ورمه ورځ د جنوري په ۳۰مه د شهادت خبر خپور کړ.

اسرائیلي یرغلګرو د تېر کال په جولای میاشت کې ویلي و، چې محمد الضیف یې شهید کړی دی، خو حماس یې پخلی نه و کړی.

نوموړی د ځوانۍ له پیله او د پوهنتون زده‌کړو پر مهال د اسلامي فکر لاروی و او په ۱۹۸۹ م کې د اسرائیلي یرغلګرو له لوري ونیول شو او له شپاړسو میاشتو زندان تېرولو وروسته ازاد شو.

له زندانه تر ازادېدو وروسته یې د لومړي ځل لپاره د حماس د پوځي څانګې عزالدین قسام شهید لېواګانو په بنسټ کېښودو کې مهمه ونډه واخیسته او د شهید عماد عقل له ترور کېدو وروسته په ۱۹۹۳ کې د قسام لېواګانو قومندان وګومارل شو.

خو له شاوخوا درې لسیزو جهاد، مقاومت، ستړیاوو او شپه ورځ هلو ځلو وروسته د اقصی توپان د عملیاتو پر مهال یې د شهادت جام نوش کړ او د قسام لېواګانو ویاند ابو عبیده تېره ورځ د هغه او حماس جهادي غورځنګ د څو نورو مشرانو د شهادت خبر تایید کړ.

ایا د محمد الضیف او نورو مشرانو شهادتونه به د حماس په جهادي مورال کوم منفي اغېز وکړي او یا به اسرائیلو ته کومه ستراتیژیکه ګټه ورسوي؟

ډېری څارونکي او تحلیلګران په دې باور دي، چې حماس به په دې ترور او وژنو کمزوری نه شي؛ ځکه چې د دغه جهادي غورځنګ بنسټ په جهاد او استشهاد اېښودل شوی دی، چې د شیخ احمد یاسین تقبله الله په څېر ګڼ مشران یې شهیدان شوي او یوازې په همدې د اقصی توپان عملیاتو کې یې د سیاسي دفتر مخکینی مشر اسماعیل هنیة، یحیی السنوار او سلګونو نور د لوړې او منځنۍ کچې مشران شهیدان شوي دي، خو حماس جهادي غورځنګ او قسام لېواګانې ورځ تر بلې غښتلې کیږي.

د اسرائیلي چارو څارونکي وایي، اسرائیل د فلسطیني مشرانو له ترور او وژنو یوازې دوه موخې درلودې شي: په یو ډول د خپلې ناکامۍ مخ پټول او د بریا انځور رسمولو هڅه ده.

د اسرائیلي چارو کارپوه مصطفی د الجزیرې عربي څانګې ته ویلي، چې د حماس جهادي مشرانو شهادتونه به ځمکني حقایق او ستراتیژیک حالات



بدل نه کړي او نه به هم د اسرائیلي یرغلګرو پر ضد د حماس جهادي روحیه کمزورې کړي.

د شهید عزالدین قسام لېواګانو ویاند ابو عبیدة ورمه شپه وویل: په شهیدانو کې د قسام عمومي قومندان محمد الضیف، د قسام مرستیال مروان عیسی، د وسلو او جګړه‌ییزو خدمتونو مسؤول غازي ابو طماعة، د بشري څواک قومندان رائد ثابت او د خان یونس لېواء مشر رافع سلامه شامل دي.

د ښاغلي مصطفی په وینا د حماس له لوري د خپلو مشرانو د شهادت په اعلان سره دا روښانه کیږي، چې حماس جهادي غورځنګ خپل دښمن ته دا ورښیي، چې د مشرانو شهادتونو دوی نه دي کمزوري کړي، بلکې کولای شي، چې خپلو جګړه‌ییزو فعالیتونو ته دوام ورکړي او روان پوځي وضعیت له خپلو غوښتنو سره سم کنټرول او مدیریت کړي.

مصطفی زیاتوي، د حماس تاریخ ته په کتو چې څومره مشران وژل شوي یا ترور شوي، دغه غورځنګ ورسره نور هم غښتلی شوی دی.

د مشرانو تشه ډکول

د حماس او اسرائیلو د چارو څارونکي وایي، چې حماس د خپل جهادي بهیر په اوږدو کې د قیادت له تشې سره نه دی مخ شوی او په ډېر مهارت یې د قیادت خلا ډکه کړې ده.

پاتې برخه... ۳ مخ

# نوار غزة؛ حماسه‌ی از خون و ایستاده‌گی

نویسنده: استاد یاسین فاضل



غزه، این سرزمین به‌ظاهر کوچک اما در حقیقت بس عظیم، بار دیگر تاریخ مجاهدت و ایثار را با خون فرزندانش نوشت. دشمن صهیونیستی با تمام تجهیزات پیشرفته و حمایت جهانی، به‌ویژه دولت‌های غربی، در رأس آن آمریکای جنایت‌کار، تلاش کرد تا این سرزمین را از پا درآورد و صدای مقاومت و مجاهدت را خاموش کند؛ اما مردان غزه با ایمان راسخ، غیرت اسلامی و عشق به جهاد، آزادی و شهادت در راه الله، به دشمنان خود نشان دادند که اراده و عزم آزاد زیستن آن‌ها از هر سلاحی قدرتمندتر است. چنان‌که در طول ۱۵ ماه، بیش از یک‌صد هزار شهید و زخمی، حدود یک میلیون بی‌خانمان، ده‌ها هزار معیوب، کودکان آواره و زنان داغدار، شهری کاملاً ویران که نه‌تنها در افسانه‌ها، بلکه در تاریخ بشریت نیز بی‌سابقه است، به‌عنوان بهای آزادی مردم غزه پرداخت شد؛ اما آنچه امروز از غزه باقی‌مانده، نه‌تنها ویرانه‌ای نیست، بلکه حماسه‌ی است که در دل تاریخ حک شده است. زیرا هر گلوله‌ی که دشمن برای نابودی غزه شلیک کرد، فریادی شد در گوش انسان‌های با وجدان بر حقانیت غزه، و هر قطره خونی که بر زمین ریخت، سندی شد بر مظلومیت فلسطین و اسارت بیت‌المقدس به دست یهودیان.

### شهادت فرماندهان صدیق

یکی از رموز پیروزی غزه، وجود فرماندهان صدیق و مؤمن در قیادت و رهبری این نبرد بود. چنان‌که در این نبرد نابرابر، فرماندهان قسام یکی پس از دیگری لباس شهادت بر تن کردند؛ اما خون‌شان چراغ راه مقاومت برای فرزندان و پیروان مجاهدشان شد. ازجمله، شهادت رهبر حماس، یحیی سنوار، در میدان نبرد و رویارویی با دشمن بشریت پیامی داشت که دشمن را زبون و پیروانش را استوارتر ساخت. هم‌چنین، شهادت محمد ضیف (ابوخالد)، فرمانده‌ی کل گردان‌های قسام، ضربه‌ای بود که نه‌تنها ضعف، بلکه قوتی دوچندان به مقاومت برای آزادی قدس بخشید. شهادت مروان عیسی (ابوالبراء)، مردی که در سکوت، تاریخ مقاومت را برای فرزندان راستین اسلام نوشت، و شهادت غازی ابو طماعه (ابوموسی)، مغز متفکر در ساخت تسلیحات و خدمات رزمی، نیز بیانگر حقانیت و صداقت فرماندهان این نبرد بود. شهادت رافع سلامه (ابومحمد)، که در این مقاومت جام شهادت نوشید، باعث وحشت و ترس در میان دشمن شد. وی مسئولیت لشکر بخش خان‌یونس، یکی از مراکز مهم مقاومت در برابر صهیونیست‌ها، را بر عهده داشت. احمد الغندور، مشهور به (ابو انس)، فرمانده‌ی لشکر شمال غزه، نیز برای تحقق اهداف و آرمان والای خود به درجه‌ی رفیع شهادت نایل گردید. هم‌چنین، ایمن نوفل (ابو احمد)، فرمانده‌ی لشکر منطقه‌ی مرکزی، از جمله فرماندهانی بود که

پاتې برخه... ۳ مخ

# افغانستان ته د ایران د بهرنیو چارو وزیر د سفر اقتصادي او سیاسي اهمیت

لیکوال: استاد روح الله هوتک

د ایران د بهرنیو چارو وزیر ډاکتر سید عباس عراقچی، د افغانستان د اسلامي امارت چارواکو سره د خبرو اترو لپاره افغانستان ته سفر وکړ. دغه سفر په داسې حساس او ستراتیژیک وخت کې ترسره شو چې د دواړو هېوادونو ترمنځ سیاسي او اقتصادي اړیکې نوي پړاو ته رسېدلي دي. دغه سفر د افغانستان لپاره یوه ستراتیژیکه موقع ده چې د اقتصادي او سیاسي اړیکو په برخه کې مثبت بدلونونه رامنځته کړي. د ایران او افغانستان ترمنځ د امنیتي همکارۍ پراختیا، د سوداګریزو اړیکو زیاتوالی، او د انرژۍ او اوبو د منابعو په برخه کې ګډې هڅې د دې سفر د اقتصادي او سیاسي اهمیت اساسي برخې جوړوي.

د ایران لپاره افغانستان د امنیتي او سیاسي اعتبار لرونکی ګاونډی هېواد دی، چې ورځخه د ایران د ستراتیژیکو موخو پوره کول مهم دي او په افغانستان کې شته نظام د ایران لپاره د سیمه ایز ثبات په برخه کې ځکه ارزښت لري چې، د ګڼو ترهګریزو ډلو، د مخدره توکو او انساني قاچاق، او د نړیوالو ګواښونو په وړاندې یې کوټلې مبارزه کړې او تر ډېره بریده یې یاد مسایل حل کړي. ایران غواړي چې د افغانستان اسلامي امارت سره د ترهګرۍ او په ځانګړې توګه د شر اچوونکو ډلو په وړاندې د مبارزې په برخه کې همکاري زیاته کړي؛ هغه چې د افغانستان اسلامي امارت یې جرړې په کور دننه ایستلي او په ټول هېواد کې یې د بحران د مدیریت ترڅنګ امن حاکم کړی او د باور وړ متمرکز اسلامي نظام یې حاکم کړی. ګاونډیان باید درک کړي چې د ترهګرۍ په وړاندې ګډې هڅې نه یوازې په افغانستان کې، بلکې په سیمه کې د امنیت لپاره یو مثبت ګام او لاسته راوړنه ده.

د ایران د بهرنیو چارو وزیر سفر د افغان حکومت سره د اړیکو د ژوروالي لپاره یوه مهمه موقع ده. ایران له اسلامي امارت سره خپلې اړیکې پراخول غواړي ترڅو په سیمه کې خپل سیاسي نفوذ زیات کړي. په ځانګړې توګه ایران په دې هڅه کې دی چې، په افغانستان پورې د اړونده مسائیلو په اړه خپل دریځ وښیي او د سولې او ثبات په برخه کې خپلې هڅې لا زیاتې کړي. که څه هم چې دغه کړنه د افغانستان په چارو کې د نورو نړیوالو لوبغاړو رول کموي خو ایران غواړي چې په افغانستان کې د خپلې سیاسي اجندا ملاتړ ترلاسه کړي.

په دغه پېرۍ کې یوه مهمه موضوع اقتصاد ده چې له بده مرغه غرب له شرق او حتی په سیمه ایزه کچه د یادو منافعو د ترلاسه کولو لپاره، هېوادونه په نظامي، نیابتي، او سره جګړه کې سره ښکیل دي. له همدې امله د دوو ګاونډیو هېوادونو لپاره لازمه ده چې داسې اقدامات ترسره کړي چې ورته اړتیا وي ترلاسه شي. ځکه چې اقتصادي اړیکې د افغانستان او ایران ترمنځ تر ټولو ډېرې مهمې دي. هغه داچې ایران د افغانستان لپاره یوه مهمه ترانزیتي لاره ده او د ایران له لارې افغانستان د منځنۍ آسیا او نورو سیمه ایزو بازارونو ته لاسرسی لرلی شي. د دې سفر په ترڅ کې د دواړو هېوادونو تر منځ د ترانزیتي اړیکو پراختیا او د سوداګرۍ زیاتوالی یو مهم بحث دی چې توافق به یې دغه اتصال لا پیاوړی کړي او د نورو فرصتونو د ترلاسه کولو لپاره به زمینه مساعده شي. ایران د افغانستان لپاره نورو بازارونو ته د لاسرسي لاره پرانیزي ترڅو افغاني تولیدات په آزادانه ډول د پلور لپاره

پاتې برخه... ۳ مخ

# هفت میخ دیگر بر تابوت صهیونیست

نویسنده: دوکتور نورمحمد محبی

۳۰ رجب المرجب ۱٤٤٦ هـ. ق سنخگوی شاخه‌ی نظامی مجاهدین قسام، ابو عبیده حفظه الله خبری به نشر رساند که برای صهیونیستان به معنای پیروزی خیالی، ولی برای آزاده‌گان به معنای رسیدن به آرمان ابدی و پیک نابودی دشمن بود. خبر شهادت هفت تن از رهبران دلیر جهاد، رهبران اسطوره‌ی و مردانی که سال‌ها خواب آرام را بر چشمان دشمن صهیونیستی حرام ساخته و خود نمادهای از شجاعت، صبر، استقامت و نبوغ نظامی بودند.
شهادت این ابرمردان تاریخ معاصر در واقع هفت میخ مُحکم دیگر بر تابوت گندیده‌ی صهیونیست، هفت مژده‌ی نابودی دولت غاصب یهود، هفت نهر برای آبیاری کشت‌زارهای جهاد، هفت چراغ فراروی مبارزان و هفت صبح امید برای آزده‌گان بود، چون شهادت از مفاهیم عمیق و ارزشمند در اسلام و مقاومت است، جان‌سپاری در راه حق، دفاع از دین، سرزمین و ارزش‌های مقدس؛ عالی ترین هدیه‌ی الهی برای انسان است.

﴿وَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتَۢاۚ بَلۡ أَحۡيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمۡ يُرۡزَقُونَ﴾
[آل عمران: ۱٦۹-۱۷۰]

(و کساني را که در راه خدا کشته مي¬شوند، مرده مشمار، بلکه آنان زنده‌اند و به ایشان نزد پروردگارشان روزي داده می‌شود).
در طول تاریخ، مسلمانان و مجاهدین، شهادت را راهی برای رسیدن به هدف های والا و حفظ کرامت انسانی دانسته‌اند و با شهادت رهبران هرگز پرچم مقاومت به زمین نخواهد افتاد، بلکه خون پاک‌شان آتشی شعله‌ورتر در دل مجاهدین خواهد بود. راهی که آنان آغاز کردند، با عزمی استوار ادامه خواهد یافت، و صهیونیست‌ها خواهند دید که این مسیر مقدس، با شهادت رهبرانش متوقف نمی‌شود، بلکه استوارتر و پرصلابت‌تر ادامه می‌یابد، چنان‌که با شهادت رهبرانی هم‌چو: شیخ احمد یاسین، اسماعیل هنیه، یحی سنوار و دیگران تقبلهم الله، این مسیر پُررونق‌تر گردیده و بقای آن محکم‌تر شده است.
در این مقاله، زنده‌گی‌نامه‌ی مختصر و گوشه‌ی از مبارزات این رهبران شهید و ابرمردان معاصر ارایه خواهد شد.

شهید محمد الضیف، رهبر کتائب قسام تقبله الله:
ـ محمد دیاب ابراهیم المصری، معروف به محمد الضیف، در سال ۱۹٦۵م در یک خانواده‌ی آواره‌ی فلسطینی که از شهرک «القبیبه» در فلسطین اشغالی (پس از سال ۱۹٤۸) بیرون رانده شده بودند، متولد شد.
ـ در مخیم خان یونس در نوار غزه بزرگ شد.
ـ در سال ۱۹۸۸ لیسانس خویش را از پوهنتون اسلامی غزه دریافت کرد.
ـ گروه تئاتر «العائدون» را تأسیس کرد.
ـ تحت تعلیم یحیی عیاش قرار گرفت.
ـ در سال ۲۰۰۲ پس از «صلاح شحاده» رهبری کتائب قسام را به دست گرفت.
ـ فردی بسیار محتاط، زیرک و کم‌ظاهر در رسانه‌ها بود.
ـ از سال ۲۰۰۲ پس از یک ترور ناموفق تنها در بیانیه های مربوط به عملیات مقاومت دیده شد که آخرین آن‌ها، عملیات طوفان الاقصی در ۷ اکتبر ۲۰۲۳م بود.
ـ از ۷ تلاش ترور جان سالم به در برد و در برخی از آن ها شدیدا مجروح شد.
ـ در یکی از تلاش‌های ترور، همسر و پسرش به شهادت رسیدند تقبلهما الله.
ـ رژیم اسرائیل در ۱٤ جنوری ۲۰۲٤م اعلام کرد که وی را در منطقه‌ی «المواصی»، غرب خان یونس در حمله‌ی که به شهادت ۹۰ فلسطینی و زخمی شدن ۳۰۰ تن از جمله زنان و کودکان منجر شد، ترور کرده است.
ـ پیکر وی پس از آغاز آتش‌بس کشف شد و خانواده اش از شهادتش مطلع شدند.

شهید مروان عیسی، مرد سایه تقبله الله:
ـ دست راست محمد الضیف و نائب رهبر کل کتائب قسام، پس از احمد الجعبری در سال ۲۰۱۲.
ـ در انتفاضه‌ی اول (۱۹۸۷-۱۹۹۳) ۵ سال در زندان های رژیم اسرائیل بود.
ـ عضو دفتر سیاسی حماس از سال ۲۰۱۷ و دوباره در ۲۰۲۱ انتخاب شد.
ـ از طراحان اصلی توافق «وفاء الأحرار» در ۲۰۱۱.
ـ از جمله‌ی مسئولان توسعه توانایی‌های نظامی کتائب قسام.
ـ در سال ۲۰۰۰م همراه با صلاح شحاده در بازسازی کتائب قسام مشارکت داشت.
ـ حلقهٔ ارتباطی میان رهبری نظامی و سیاسی حماس.
ـ یکی از مسئولان اصلی هرگونه تبادل اسرا با رژیم اسرائیل.
ـ مسئول عملیات علیه شهرک‌های صهیونیستی در کتائب قسام.
ـ یکی از مهم‌ترین چهره‌های تحت تعقیب اسرائیل.
ـ تا زمانی که زنده بود اسرائیل او را «مرد عمل» و «نابغه‌ی که می‌تواند پلاستیک را به فلز تبدیل کند» توصیف می‌کرد.
ـ رژیم اسرائیل در مارچ ۲۰۲۳ اعلام کرد که او را در حمله‌ی هوایی در نصیرات کشته است، اما شهادتش تا امروز تأیید نشده بود.
ـ امروز، حماس به خانواده‌ی او و برخی رهبران قسام خبر شهادت او را اعلام کرد.

شهید رافع سلامه، رهبر لوای خان یونس تقبله الله:
ـ یکی از طراحان اصلی عملیات طوفان الاقصی.
ـ پیش‌تر در یک مکتب وابسته به سازمان ملل در مخیم خان یونس وظیفه داشت.
ـ مادرش در حمله هوایی اسرائیل به منزل‌شان به شهادت رسید تقبلها الله.
ـ اشغال‌گران وی را به برنامه‌ریزی و اجرای چندین عملیات مهم متهم کرده بودند، از جمله:
ـ عملیات «عمر طبش» در (سال ۲۰۰۵ م): انفجار در اتاق افسران «شاباک» در پایگاه نظامی اوروحان در نوار غزه.
ـ عملیات احمد ابوطاحون در (سال ۲۰۰۷): تحت نام «شکار مارها ۳»، علیه نیروی خاص اسرائیلی در نزدیکی گذرگاه صوفا در جنوب نوار غزه.
ـ دستگیری و تأمین امنیت سرباز اسرائیبی «گلعاد شالیت» (۲۰۰٦).
ـ از چندین تلاش ترور جان سالم به در برده بود، از جمله حمله به منزلش در ۲۰۲۱.
ـ اسرائیل ادعا کرد که وی را همراه با محمد الضیف در ۱٤ جنوری ۲۰۲٤ در منطقهٔ «المواصی» ترور کرده است.
ـ در ۲۲ جنوری ۲۰۲٤ اجساد دو فرزندش، سعید و حازم سلامه، پیدا شد.
ـ حماس امروز خبر شهادتش را به خانواده‌اش اعلام کرد.

لومړی برخه
پاتې برخه... ۳ مخ

# د اسلامي تمدن زرین علمي دور پېژندنه

لیکوال: بدر



د اسلامي تمدن زرین علمي دور د نړۍ په تاریخ کې د علم، پوهې او تمدن د ودې لپاره یوه بې سارې دوره وه. دا دوره د ۸مې پېړۍ په پای کې پیل شوه او د ۱۳مې پېړۍ تر منځنۍ برخې پورې یې دوام وکړ. په دې دوره کې اسلامي نړۍ د یوناني، رومي، هندي او فارس تمدنونو علمي میراثونه ترلاسه کړل او پرمختګ یې ورکړ.

**د اسلامي تمدن بنسټیز اصول**
اسلام د علم او پوهې ترلاسه کول د ټولنې لپاره یوه بنسټیزه اړتیا ګڼي. د قرآن کریم ایتونه او نبوي احادیث د علم په ترلاسه کولو ټینګار کوي. د نبوي ارشاد له مخې:
"د علم ترلاسه کول پر هر مسلمان فرض دي."
همدارنګه، اسلام د کائناتو او طبیعت په اړه فکر کولو ته هڅونه کوي، چې دا د ساینس لپاره یو بنسټیز اساس و.

**د عباسي خلافت ونډه**
د عباسي خلافت پر مهال، په ځانګړي ډول د خلیفه مامون په دوره کې، د علم او پوهې د ودې لپاره ځانګړي اقدامات ترسره شول. خلیفه مامون د "بیت الحکمة" بنسټ کېښود، چې د اسلامي تمدن د علمي پرمختګ اصلي مرکز و.
د علم د نړیوال کیدو هڅې
په دې دوره کې د علم په اړه نړیوال لیدلوري شتون درلود. پوهانو د نورو کلتورونو او تمدنونو علمي لاسته راوړنې خپلې کړې او په همدې بنسټ یې نوې څېړنې او تجربې ترسره کړې.

**د بیت الحکمة جوړښت**
بیت الحکمة مرکز د عباسي خلافت پر مهال، په ځانګړي توګه د خلیفه مامون په دوره کې، په بغداد کې جوړ شو. دا مرکز د علمي څېړنو او پوهې د پراختیا لپاره یوه بې ساري هڅه وه. د دې مرکز هدف نه یوازې د علم ساتل وو، بلکې د علم پراختیا او له نورو تمدنونو سره د علمي اړیکو جوړول وو.
بیت الحکمة د پوهانو، عالمانو، او فیلسوفانو لپاره یوه علمي فضاء رامنځته کړه، چې په بېلابېلو برخو کې یې پوهې ته لاره هواره کړه.

**د بیت الحکمة اهداف**
د بیت الحکمة اصلي موخه دا وه چې د بېلابېلو علومو لکه طب، ریاضیاتو، فزیک، فلسفې، او د نجوم پرمختګ ته وده ورکړي. د دې مرکز بله موخه د علمي ژباړو لپاره د یوې ځانګړې فضا جوړول وو، ترڅو د نورو تمدنونو، په ځانګړي ډول د یوناني او هندي فلسفو او علمي نظریاتو څخه ګټه پورته کړي.

**د بیت الحکمة علمي فعالیتونه**

**۱ د کتابونو ژباړه:**
یوناني، رومي، هندي او د فارس علمي کتابونه عربي ژبې ته وژباړل شول. د دغو ژباړو له لارې د اسلامي پوهانو لپاره د نړۍ مختلفو علمي مفاهیمو ته لاسرسی ممکن شو. د بېلابېلو پوهانو لکه حنین بن اسحاق او ثابت بن قره په هڅو سره د طب، فلسفې، او ریاضیاتو په برخه کې د نورو تمدنونو کتابونه وژباړل شول.

**۲ علمي څېړنې او ازموینې:**
په بیت الحکمة کې پوهانو ته د څېړنو لپاره هر ډول اړین امکانات ورکول کېدل. د ریاضیاتو، طب، نجوم او فزیک په برخو کې څېړنې ترسره کیدې. د ابن هیثم او الخوارزمي په څېر پوهانو د علم په مختلفو برخو کې پراخې څېړنې وکړې.

**۳ علمي تدریس:**
بیت الحکمة یوازې د کتابونو د ژباړې مرکز نه و، بلکې د علمي تدریس یوه ستره سیمه هم وه. پوهانو او استادانو په دې مرکز کې د علمي مسایلو په اړه زده کوونکو ته تدریس کاوه. دغه مرکز د علمي ښوونې او

# د ایران له بهرنیو چارو وزیر سره په مهمو موضوعاتو خبرې وشوې

راپور: حریت راډیو

د ایران د بهرنیو چارو وزیر سـید عباس عراقچي د راون ۱٤۰۳ کال د سلواغې په ۷مه، کابل ته د سـفر پر مهال د افغانسـتان اسـلامي امارت له رئیس الوزراء، بهرنیو او دفاع وزیرانو سره وکتل.
عبـاس عراقچي له رئیس الوزراء ملا محمد حسـن اخوند سـره په کتنه کې د ایران امنیت او ثبات، د افغانستان په امنیت او ثبات پورې تړلی بللی. د نوموړي په خبره، وروستیو پرمختګونو دې پایلې ته رسولي، چې له اسلامي امارت سره باید همکاري پراخه کړي.
سـید عبـاس عراقچي د کډوالـو او اوبـو موضوع ته په اشـارې ویلـي، دواړه موضوعات باید د همکاریو د پراختیا لامل شـي او ایـران په ابرومندانه ډول د قانوني افغان کډوالو ستنولو ته ژمن دی.
نوموړي داډ ورکړی چې، ایران هېڅکله د افغانسـتان په کورني سیاسـت کې د لاسـوهنې نیت نه لري، خو د اوبو سـتونزې د حل لپاره یـې د دواړو هېوادونو ترمنځ په بشپړ ډول د هلمند سیند اوبو د تړون په پلي کولو ټینګار کړی.
په دې کتنه کې د اسلامي امارت رئیس الوزراء ویلي، اسلامي امارت د تفاهم له لارې له ایران سره د ستونزو د حل غوښتونکی دی.
رئیس الوزراء د تفاهم او ورورګلوۍ په فضا کې د اړیکو پالل د دواړو هېوادونو په ګټه او د ملتونو د هوساینې لامل بللي دي.
ښـاغلي رئیس الوزراء په دې کتنه کې ویلي، د اوبو په موضوع کې افغانسـتان هېڅکلـه ایران ته د ضرر رسـولو هوډ نـه لري او په دې برخه کې د ښـه نیت پر اساس تعامل کوي.
نومـوړي پـه ایران کې مېشـت افغان کډوالو ته په اشـارې له ایرانـي لوري، له کډوالو سره د اصولو پر اساس د چلند غوښتنه کړې. دده په خبره چې، په لنډه موده کې د افغان کډوالو د وېسـتلو مدیریت ممکن نه دی او په دې برخه کې باید تدریجي ګامونه واخیستل شي.
سید عباس عراقچي کابل ته له رسېدو سره سم د بهرنیو چارو وزارت له تود هرکلي سره مخ شو او د بهرنیو چارو له وزیر مولوي امیرخان متقي سره یې دوه اړخیزه ناسته پیل کړه.
په دې کتنه کې دواړو لوریو په ایران کې د افغان کډوالو پر وضعیت، ګډو پولو او د اوبو پر مسایلو خبرې کړې دي.
هغـه مهال د بهرنیو چارو وزیر مولـوي امیر خان متقي وویل، کابل ته د لوړ پوړي ایراني پلاوي سـفر به د دواړو هېوادونو په اړیکو کې لا زیات تحرک رامینځته او دوه اړخیزې اړیکې به نوي پړاو ته دننه کړي.
مولوي امیر خان متقي مشترکو ګټو ته په کتو، د ډیپلوماټیکو اړیکو د کچې په لوړوالي ټینګار کړی.
ښـاغلي متقي اقلیمي بدلون ته په اشارې ویلي، افغانستان هم د دې طبیعي پدیدې قرباني دي، خو د هلمند، نیمروز، سیسـتان او بلوچسـتان خلکو ته په یوه سترګه ګوري او هڅه کوي، چې دواړو لوریو ته د اړتیا وړ اوبه ورسېږي.
د ایران د بهرنیو چارو وزیر هم ویلي، کابل ته یې سفر د تهران او کابل د اړیکو د نوي مسیر د پیل په معنا دی.
نوموړي اوبه یوه انساني مسئله بللې او ټینګار یې کړی، چې اوبه باید د همکاریو پر موضوع بدله شي.
مولوي امیرخان متقي کابل ته د عراقچي د وروستي سفر په تراو د یوې معلوماتي ناستې پر مهال ویلي، دا چې اسـلامي امارت له ټولو هېوادونو سره د ښو اړیکو غوښـتونکی دی، د ګاونډیو هېوادونو سربېره د سیمې او نړۍ هېوادونه ورځ تربلې له اسلامي امارت سره د تعامل غوښتونکي دي.



# پایانی بر گذشته، آغازی بر فصل جدید؛ سفر یک‌روزه‌ی دکتر عراقچی به کابل

نویسنده: ذاکر جلالی

سـفر آقای دکتر سـید عباس عراقچی، وزیر امور خارجه‌ی جمهوری اسـلامی ایران به کابل ساعت ده شب به وقت محل به پایان رسید.

در جریـان این سـفر وزیر امور خارجه‌ی ایران در کنار دیـدار با همتای افغانش آقـای مولوی امیر خـان متقی، با رئیـس الـوزراء و وزیر دفاع ملی کشـور نیز دیدارهای داشت.
این سـفر یک جنبه‌ی دیپلوماسی عمومی نیز داشت. آقای عراقچی در شهرنو کابل بازار گردی کرد، از دوکان‌های میوه‌ی خشـک افغانسـتان دیدن کرد و در پایان در یک چای‌خانه‌ی شهر با همراهانش چای نوشید.
این اولین سـفر وزیر امور خارجه‌ی ایران به افغانسـتان پـس از پیروزی امارت اسلامی افغانستان است.
این خود نشان‌گر آن است که، جمهوری اسلامی بعد از ارزیابی دقیق و عمیق وضعیت در افغانسـتان در جریان سـه سـال و نیم گذشـته، می‌خواهـد روابط دو کشـور بـه وضعیت عادی باز گردد.
آقای عراقچی هدف این سفر را "آغاز یک مسیر جدید و یک فصل جدید در روابط دو جانبه" خواند.
ایران همسـایه افغانسـتان اسـت و هر دو کشـور مشترکات فروانی دارند. جانب افغانستان نیز علاقه مند روابط مثبت با آن کشور است و از این سفر توقع دارد روابط دو جانبه وارد "مرحله‌ی جدیدی" شود.
در دیدارهای امروزی بیشتر گفتگوها، روی توسعه‌ی بیشتر روابط دو جانبه، افزایش حجم مبادلات میان دو کشور، تأمین امنیت مرزهای دو کشور، مسایل مهاجریـن بـه خصـوص بازگشـت عزت‌مندانـه‌ی مهاجریـن بـه افغانسـتان و هم‌چنان مسـایل آب متمرکز بود.
در مسایل توسعه‌ی روابط، افزایش مبادلات، تأمین امنیت مرزها تفاوت دیدگاه چندانی وجود نداشت.
در مسـایل مربوط به مهاجریـن هر دو جانب توافق کردند مشـترکاً کار نمایند تا زمینه‌ی بازگشـت "عزت مندانـه" به قول جانـب ایران و "تدریجـی" به قول جانب افغان، فراهم شود.
هم‌چنان در مسـأله‌ی آب، تمامی مقامات افغان به جانب ایران اطمینان دادند که از سرازیر شدن آب به سوی ایران جلوگیری نخواهند کرد و باشنده‌گان آن سوی مرز را نیز برادران خویش می‌پندارند.
محترم رئیس الوزراء به وضاحت گفتند، "حتی اگر معاهده‌ی آب هلمند نیز نباشد، ما از سرازیر شدن آب به مردمان آن سـوی مرز انکار نمی‌کنیم. ایشـان برادران مسلمان ما هستند و انسان اند، چرا باید کسی را از آب محروم ساخت".
در کنار گفتگوهای رسـمی دوجانبه، آقای عراقچی را گروهی از تاجران ایرانی نیز همراهی می‌کرد و در پایان این سفر نشست مشترک تجار هر دو کشور نیز با میزبانی اتاق تجارت افغانستان برگزار گردید.
ایـن دیدار که به رهبری وزیر صنعت و تجارت افغانسـتان و وزیر امور خارجه‌ی ایران برگزار شـد، جمعی از بازرگانان دو کشـور اشـتراک نمودند و روی راه‌های عملی افزایش تجارت، ترانزیت و سـرمایه‌گذاری بحث های عملی داشتند.
این سفر با تعهدات توسعه‌ی روابط دو جانبه و گسترش همکاری‌ها به پایان رسید.
دیده شود تا چه حدی دو جانب می‌توانند این سفر را به آغازی برای «مسیر جدید و فصل جدید» و یا هم «مرحله‌ی جدید» مبدل نمایند؟

## ...نوار غزه؛ حماسه‌ی از خون و ایستاده‌گی

همراه سایر فرماندهان دیگر (تقبلهم الله)، مردانه رزمید و رضایت‌مندانه در راه آرمان قدس، اعلای کلمة‌الله و تشکیل دولت اسلامی فلسطین، به مقام رفیع شهادت نایل شدند.

**مسجدالاقصی؛ قبله‌ی اول مسلمانان و چراغ راه مقاومت**

در این نبرد نابرابر تاریخی، مسجدالاقصی نه‌تنها یک مکان مقدس، بلکه نماد ایمان و پایداری مسلمانان در برابر ظلم و وحشت صهیونیسم بود. مسجدالاقصی، نخستین قبله‌ی مسلمانان در سرزمین انبیا علیهم‌السلام، همیشه در قلب هر مسلمان جایگاه ویژه‌ای داشته و دارد. در این نبرد مقدس، هر قطره خون شهیدان غزه، نذرانه‌ای بود برای آزادی آن. شهادت فرزندان غزه در این نبرد، در حقیقت، ادامه‌ی مسیر مبارزان بزرگ در تاریخ اسلام است که اسلاف این امت، هم چون خالد بن ولید، سعد بن ابی وقاص، نورالدین زنگی، صلاح‌الدین ایوبی و هزاران قهرمان دیگر، جنگیدند و تاریخ زرین به یادگار گذاشتند. این نبرد، بیش از آنکه یک جنگ جغرافیایی باشد، جنگی بر سر هویت، عقیده و ایمان مسلمانان است. قطرات خون‌های پاکی که در غزه ریخت، برای حراست و پاسداری از مسجدالاقصی بود. هنگامی‌که دشمن صهیونیست به نابودی غزه، قتل‌عام و جنایات بی‌رحمانه بر مردم این سرزمین می‌پرداخت، مسجدالاقصی هم‌چنان در قلب مقاومت‌گران می‌درخشید و مردم غزه، به شمول رهبران جنبش، برای آزادی آن، جان خود را فدای آرمان آزادی قدس و تشکیل دولت اسلامی فلسطین کردند.

**نقش مسجدالاقصی در پیروزی غزه**

در قلب غزه، جوانان مقاوم و مبارزان جهادی همواره با نیت آزادسازی مسجدالاقصی و تشکیل دولت اسلامی در سرزمین انبیاء علیهم‌السلام به مبارزه ادامه داده و می‌دهند. در ذهن هر فلسطینی، این باور نهفته است که پیروزی در این جنگ، نه‌تنها برای نجات سرزمین‌های اشغالی فلسطین از چنگال یهود است، بلکه برای آزادسازی مسجدالاقصی، نخستین قبله‌ی مسلمانان. مسجدی که اهمیت آن در قرآن کریم و سنت نبوی صلی‌الله‌علیه‌وسلم ثابت است و مسجدی که الله متعال برای عروج پیامبر اسلام صلی‌الله‌علیه‌وسلم به آسمان‌ها آن را انتخاب نمود. سرزمینی که در صدر اسلام قبله‌ی اول مسلمانان بود، امروز در دست دشمنان است؛ اما مردم غزه، به‌عنوان نخستین سنگر در این مبارزه، هرگز از آن غافل نبوده و نیستند.

مسجدالاقصی در این نبرد، نماد وحدت مسلمانان و جوهره‌ی مقاومت بود. در هر حمله و هر دفاعی که انجام می‌شد، صدای «الله اکبر» در تمامی نقاط غزه بلند بود؛ زیرا فرزندان غزه می‌دانستند که نبردشان، تنها برای آزادی سرزمین و خطه‌ای از خاک نیست، بلکه برای آزادسازی مقدس‌ترین مکان مسلمانان در قدس شریف از اشغال یهود است.

**آینده‌ی روشن برای قدس و فلسطین**

غزه و غزه‌نشینان امروز، علی‌رغم همه‌ی فشارها و شکنجه‌ها، در مسیر آزادسازی مسجدالاقصی گام برداشته‌اند. در نهایت، با پیروزی مقاومت و آزادی این سرزمین، مسجدالاقصی، به‌عنوان نخستین قبله‌ی مسلمانان، دوباره تحت سلطه‌ی مسلمین قرار خواهد گرفت. آن روز دور نیست که خون‌های نثار شده در غزه، به بار خواهد نشست و چشم مسلمانان، با دیدن آزادی مسجدالاقصی و قدس شریف، روشن خواهد شد. غزه شهیدان آن در این راه، تنها شهیدانی نیستند که جان خود را فدای پیام الهی آزادی قدس و آزادی سرزمین فلسطین کرده‌اند؛ بلکه در سراسر جهان اسلام، در طول تاریخ، شهیدانی بوده و هستند که جان خود را فدای پیام الهی، آزادی سرزمین‌های خود از چنگال کمونیسم و امپریالیسم، تشکیل نظام اسلامی، تطبیق شریعت اسلامی و بازپس‌گیری مسجدالاقصی کرده و می‌کنند.

## ...افغانستان ته د ایران د بهرنیو چارو وزیر

نوی فرصت و مومي.

د انرژۍ (برېښنا، تیلو) او نورو سرچینو په برخه کې د ایران او افغانستان ترمنځ همکاري مهمه ده. ایران کولی شي د افغانستان دغه اړتیا پوره کړي او افغانستان د انرژۍ اړوندو پروژو کې ایران ته د پانگونې فرصت برابر کړي. له دغې لارې ایران کولی شي په افغانستان کې د سترو زیربناوو، لکه سړکونو، پلونو او نورو پروژو په رغونه باندې پانگونه وکړي.

ایران د افغانستان لپاره د یو ستر سوداګریز شریک په توګه د خپلو اقتصادي منابعو په تبادله کې لویه همکاري کولی شي، دا ځکه چې افغانستان د ایران اقتصادي مرستو ته اړتیا لري ترڅو له خپل اقتصادي بحران سره مبارزه وکړي او دا د دواړو هېوادونو لپاره د مشترکو منافعو په ترسیم او ترلاسه کولو کې ډېر اهمیت لري. بله مهمه موضوع داده چې د ایران په اقتصاد کې افغان کډوال لویه برخه لري او افغانستان د ځوان بشري ځواک په درلودلو سره په قانوني توګه د ایران د کار بازار اړتیاوې پوره کولی شي. که په دغه برخه کې ایران د افغان ماهرو کارګرانو لپاره کاري فرصتونه برابر کړي، دا کړنه به د پولې په اوږدو کې د ناقانونه کډوالۍ ستونزه حل او د دواړو هېوادونو لپاره به زیاتې اقتصادي گټې له ځان سره ولري.

که څه هم د دې ژمنو عملي کېدل به د وخت او دواړو هېوادونو د همکارۍ په عزم پورې تړلي وي، خو دا سفر د دې لپاره یو گټور گام گڼل کېږي چې ایران او افغانستان په خپلو اړیکو کې د باور، گډو گټو، او سیمه‌ییز ثبات پر لور پرمختګ ته هم اړتیا لري او هم ژمن دي. دا سفر د ایران او افغانستان ترمنځ د سیاسي او اقتصادي اړیکو د پراختیا لپاره یوه مهمه موقع رامنځته کړه، ترڅو د دواړو هېوادونو ترمنځ د باور فضا جوړه او دواړه هېوادونه له دې فرصت څخه د خپلو ملي گټو د خوندیتوب، د انرژۍ د اړتیاوو پوره کولو، او د کډوالو د ستونزو د حل لپاره اغېزمنه گټه پورته کړي. په دې ډول، که دواړه هېوادونه خپلې همکارۍ پر گډو گټو او متقابل احترام ولاړې وپالي دا به د سیمه‌ییزې سولې او پرمختګ لپاره یو بریالی گام وي.

والسلام

## ...هفت میخ دیگر بر تابوت صهیونیست

شهید رائد ثابت، رهبر رکن قوای بشری تقبله الله:

ـ قبلاً ریاست سامانه‌ی تولید حماس را بر عهده داشت.

ـ اسرائیل او را مرجع اصلی تسلیحات و تجهیزات نظامی حماس توصیف کرده بود.

ـ مسئول تحقیق و توسعه در شاخه‌ی نظامی حماس.

ـ یکی از ۱۰ رهبر ارشد شاخه‌ی نظامی حماس.

ـ ـ نزدیک به یحیی السنوار، محمد الضیف و مروان عیسی بود رحمهم الله.

شهید غازی ابوطماعه، مسئول تسلیحات و خدمات جنگی کتائب تقبله الله:

ـ مسئول تسلیحات و پشتیبانی لوجستیکی در کتائب قسام.

ـ از اعضای شورای نظامی قسام در غزه.

ـ از مهم‌ترین اهداف تحت تعقیب اسرائیل.

ـ چندین بار مورد تلاش ترور قرار گرفت.

ـ اسرائیل در مارچ ۲۰۲٤ اعلام کرد که او را به شهادت رسانده است.

شهید ابو أنس أحمد الغندور، مرد سوم قسام و رهبر لوای شمال تقبله الله:

ـ متولد ۱۹٦۷م در شهر یافا.

ـ فعالیت جهادی خود را از ۱۹۸٤ آغاز کرد.

ـ ٦ سال در زندان‌های اسرائیل و ٥ سال در زندان های تشکیلات خودگردان فلسطین بود.

ـ اسرائیل او را به برنامه‌ریزی عملیات استشهادی متهم می‌کرد که به کشته شدن اسرائیلی‌های زیاد منجر شده بود و هم‌چنین به برنامه‌ریزی و شرکت در عملیات «الوهم المتبدد» که دستگیری «گلعاد شالیت» انجامید.

ـ در سال ۲۰۰٥ م به رهبری لوای شمال قسام منصوب شد.

ـ اسرائیل چندین بار تلاش کرد او را ترور کند، از جمله در ۲۰۰۲ و ۲۰۱۲.

ـ همسر و یکی از دخترانش در حملهٔ ۲۰۱٤ م به خانه‌ی شان شهید شدند، و دو پسرش نیز در مبارزات طوفان الاقصی به شهادت رسیدند.

ـ در ۲٦ نوامبر ۲۰۲۳ در جنگ طوفان الاقصی به شهادت رسید.

شهید ایمن نوفل، رهبر لوای مرکزی تقبله الله:

ـ رهبر استخبارات و امنیت در کتائب قسام، عضو شورای نظامی حماس و رهبر لوای ولایت مرکزی.

ـ از نزدیکان مروان عیسی نائب رئیس ارکان کتائب قسام.

ـ متولد ۱۹٦٥ م در مخیم البریج.

ـ مسئول تجهیز چندین استشهادی کوبنده علیه اسرائیل.

ـ چندین سال رهبری استخبارات در کتائب قسام.

ـ سه بار در زندان‌های اسرائیل و یک بار توسط تشکیلات خودگردان (۱۹۹۷م) توقیف شد.

ـ در ۲۰۰۸ م توسط مصر توقیف شد سه‌ونیم سال تحت شکنجه شدید بود.

ـ در ۱۷ اکتوبر ۲۰۲۳م در حمله‌ی هوایی اسرائیل به مخیم البریج به شهادت رسید.

تقبلهم الله وجعل الجنة مثواهم!

## ...د محمد الضیف شهادت او حماس جهادي غورځنگ

د سیاسي او ستراتیژیکو چارو څېړونکی سعید زیاد وایي، د اسرائیلو او حماس تر منځ د خونړۍ جگړې پر مهال داسې اندېښنې وې، چې د مشرانو په شهادتونو به دغه غورځنگ د قیادت له خلا سره مخ شي، خو حماس په ډېره ښه توگه دغه موضوع مدیریت کړې او د مشرتابه له خلا سره نه دي مخ شوي.

ښاغلی زیاد په دې باور دی، چې قسام لېواگانو تر اوسه شل سلنه قیادت او بشري ځواک له لاسه ورکړی دی او هر وخت، چې د حماس جنگیالي د خپلو مشرانو د وژل کېدو خبره اوري، دوی نور هم غښتلي کیږي.

د محمد الضیف د اغېز په اړه سعید زیاد وایي: «تر ټولو غوره جگړه هغه ده،چې مشر یې په کې ووژل شي او شهید ۲۳ کاله په داسې حال کې تېر کړي، چې چا یې روښانه انځور نه و لیدلی.»

نوموړی ټینگار کوي، چې شهید ضیف په قسام لېواگانو کې یو مرکزي مشر و، په ۲۰۱۲ کې، چې د ده مرستیال احمد الجعبري د اسرائیلو له لوري ترور شو، د غچ اخیستو لپاره یې د اسرائیلو پلازمېنه تل ابیب په توغندیو وویشت او جگړه یې له دفاع څخه هجومي کړه.

سعید زیاد وایي، چې د فلسطیني ولس په تاریخ کې د اقصی توپان تر ټولو ستره معرکه وه او په دې کې د محمد الضیف په گډون د قسام لېواگانو پنځوس سلنه مشران هم شهیدان شول، خو د جگړې په ډگر کې د هغوی شهادتونو کوم منفي اغېز ونه کړ.

هر وخت غښتلی بدیل

دا د جهادي او اسلامي حرکتونو ځانگړنه ده، چې یو مشر یې شهید یا په خپل مرگ وفات شي، ځای ناستی او بدیل یې تر هغه غوره او غښتلی راځي.

د حماس جهادي غورځنگ تاریخ ته په کتو دا ویلی شو، چې کله هم کوم مشر شهید شوی، ځای ناستي یې داسې څوک راغلی، چې د پخواني مشر په پله یې پل اېښی دی او په دغه غورځنگ کې یې د فداکارۍ او قربانۍ جذبه نوره هم زیاته کړې ده.

لیکوال او د سیاسي چارو فلسطیني کارپوه احمد الحیة وایي، د مشرانو شهادتونه دغه غورځنگ نه شي کمزوری کولای او ټولو ته روښانه ده، چې د اقصی توپان وروستۍ ورځې هم د دې جگړې د پیل په څېر تودې او له تکتیکونو ډکې وې.

احمد الحیة په خپل استدلال کې وایي، چې د پخوانیو مشرانو سربېره یوازې په دې جگړه کې د حماس د سیاسي دفتر مشر اسماعیل هنیة د ایران پلازمېنه تهران کې او د هغه مرستیال صالح العاروري د لبنان پلازمېنه بېروت کې په توغندیزو بریدونو کې شهیدان شول او یحیی السنوار په غزه کې شهید شو، خو د دې سربېره حماس تر اوسه هم د خپلو مشرانو د ځای ناستو او بدیلونو لپاره ډېر څه لري او لامل یې هم دا دی، چې دوی د خپلې قضیې لپاره رښتیني دي او د فلسطیني ولس له منځه راټوکېدلي دي.

د ښاغلي احمد الحیة په وینا یرغلگر دښمن هم په دې پوهېږي، چې د حماس په څېر جهادي غورځنگ ته ماتې ورکول ناشوني دي.

د فلسطین ولس له مجاهدینو سره اوږه په اوږه ولاړ دی او د اقصی توپان عملیاتو پر مهال هېڅوک داسې پیدا نه شول، چې د دومره ازادو رسنیو پر مهال دې د حماس پر ضد یوه خبره وکړي او له جگړې وروسته د اوربند پر مهال موږ او تاسو ولیدل، چې ولس په څومره مینه او لېوالتیا د حماس مجاهدینو هرکلی کاوه، چې ښایي ساری یې په نوره نړۍ کې ونه موندل شي.

شهید یحیی السنوار په خپلو وروستیو ویناوو کې پر دې ټینگار کاوه، چې د قضیې گټل د دوی کار نه دی، بلکې دوی باید د جهاد لاره خپله کړي او نور نسلونه به راځي او دا مسیر به تعقیبوي.

د حماس په څېر د جهادي غورځنگ په افرادو نه، بلکې په افکارو ولاړ وي او افکار هېڅکله نه مري، بلکې په کوم ځنگل کې، چې یو زمری پیدا کیږي، په هغه کې نور هم موندل کیږي.

## د اتفاق له امله به گڼ نعمتونه راپخلا شي

لیکنه: ضیاءالحق حسان

اتفاق او اتحاد د اسلامي ټولنې او نظامونو اصل دی. په یووالي مو ټولنې جوړېږي او د بریا تر درشله رسېږي. د مسلمه وگړو ترمنځ اتفاق او یووالی الهي امر او نبوي تگلاره ده. الله تعالی فرمایي:

د الله په دین ټول منگولې ونښلوئ! (ال عمران ۱۰۳)

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

ته به مؤمنان په خپلو مینې، رحم، او خواخوږۍ کې د یو بدن په څېر ووینې. که د بدن یوه برخه تکلیف وگالي نو، ټول بدن د بې خوبۍ او تبو په وسیله ورسره خواخوږي ښکاره کوي.

(راوي: نعمان بن بشیر، صحیح البخاري.)

اتفاق د بریا او د مسلمانانو ترمنځ د لوی رب د رحمت سبب کیږي او بې اتفاقي بیا د دې لامل کیږي چې د رب رحمتونه رانه پورته شي.

عبادة بن صامت رضي الله عنه وایي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم بهر ته د دې لپاره تشریف راووړ تر څو موږ ته د لیلة القدر د تعین په اړه خبر راکړي. په دې وخت کې د دوو مسلمانانو په خپل منځ کې جگړه شوه، نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

د دې لپاره راووتلم چې د لیلة القدر په اړه تاسو خبر کړم، خو فلاني او فلاني کس جگړه وکړه، د لیلة القدر تعین رانه پورته شواو کیدای شي ستاسو لپاره همدا بهتره وي.

له دې معلومیږي چې د مسلمانانو تر منځ په جنگ او جگړو سره، انسانان له ډېرو رحمتونو او برکتونو محرومیږي.

الله تعالی فرمایي:

او تاسو په خپل منځ کې یو له بل سره جگړې مه کوئ کنه بزدله/بې زړه به شئ او ستاسو رعب او قوت به له منځه ولاړ شي. (الانفال ٤٦)

د اسلامي ټولنو تر څنگ باید اسلامي نظامونه هم د اتحاد او یووالي ویاړ خپل کړي. که د خپل امیر د اطاعت تر سیورې لاندې ژوند وکړو د اتفاق او یووالي تر څنگ به گڼ نعمتونو را پخلا شي.

## ...د اسلامي تمدن زرین علمي ...

زده کړې په برخه کې یوه بې ساری هڅه وه.

**٤ د علمي تجهیزاتو پراختیا:**

د بیت الحکمة پوهانو د خپلو څېړنو او ازموینو لپاره مختلف وسایل لکه اسطرلابونه، قطب‌نماوې، او د فلکیاتو وسایل اختراع کړل. دا تجهیزات د فضا د څېړلو او د ستورو د حرکتونو د دقیقې مطالعې لپاره کارول کېدل.

**د بیت الحکمة اغېز**

د بیت الحکمة اغېز نه یوازې په اسلامي نړۍ کې بلکې په ټوله نړۍ کې خپور شو. د علم په برخه کې یې نه یوازې په اسلامي نړۍ کې د پرمختگ لپاره بنسټ کېښود، بلکې اروپایي رنسانس ته یې هم لار هواره کړه. د دې علمي مرکز د پوهانو او عالمانو د کتابونو ژباړو او څېړنو د اروپایي پوهانو لپاره هم نوي علمي بنسټونه رامینځته کړل.

بیت الحکمة نه یوازې د اسلامي تمدن لپاره یوه ستره علمي پانگه وه، بلکې د نړۍ د علمي پرمختگ لپاره هم یوه بې ساري سرچینه وه. ددې مرکز د پوهانو هڅو او فعالیتونو د علمي پراختیا لپاره نوې لارې پرانېستې او د نورو تمدنونو سره د علمي اړیکو لپاره یې بنسټونه کېښودل.

**دوام لري...**



## حفصه ﵂

تولونه: سیف الله قاسم

حفصــه ﵂ هغه وخت دنیا تــه راغله چې قریشــو کعبه بیا ودانوله. دا واقعه د حضرت محمد ﷺ له پیغمبر کیدو څخه پنځه کاله مخکې وه. پــه هغه وخت کې حضرت محمد ﷺ د قریشو ترمنځ د حجرالاسود د کېښودو پر سر جنجال، په خپل خاص درایت او خپلو مبارکو لاســونو حــل کړ. حفصه ﵂ له علــم او ادبیاتو ســره مینه درلــوده. هغې لیک او لوســت له (شــفاء) زده کړ چې د عبدالله لــور وه. حفصه ﵂ د زده کړو مینواله وه او د قریشو په منځ کې یوه فصیحه ښځه وه.

کله چې حفصه ﵂ بلوغ ته ورســېده، خنیــس بن حذافه د هغې غوښــتو ته راغی او له هغه سره یې نکاح وشوه. مخکې تر دې چې پیغمبر ﷺ د ارقم بن ابوالارقم کور ته داخل شــي، خنیس د ابوبکرصدیق ﵁ په لاس مسلمان شو.

کلــه چې محمــد ﷺ او د هغه ملگري له مشــرکینو په تنگ شــول، اصحابوکرامو ﵃ ته یې وویل چې حبشې ته هجرت وکــړي. خنیس هم د هغــوی له ډلې یو و چې حبشــې ته یې هجرت وکړ او بېرته مکې ته راوگرځید. کله چې په مکه کې د مشــرکانو لخوا هره ورځ آزارېــدل نو؛ له حفصه ﵂ سره یې یوځای یثرب (مدینې منورې) ته هجرت وکړ. د حضرت محمد ﷺ نور ملگــري هم دده په اجازه مدینې منورې ته مهاجر شول. دوی دواړو( خنیس او حفصــې) ﵁ د انصــارو تر څنــگ نېکمرغــه ژوند درلود. تــر هغې چې د مدینې منورې ښــار د حضرت محمد ﷺ په راتگ سره لا رڼا رڼا شو.

خنیس ﵁ چې د بــدر د جنگ اتل و، د زړه له تله د شــهادت آرزومند و. په همدې جنگ کې ســخت ټپي شــو خو بیا یې هم له مقابلې لاس وانخېست. د بدر له غزا وروســتو، خنیــس ﵁ مدینې منــورې ته د جنگ له زخمونو سره یو ځای ستون شو.

خنیــس ﵁ په مدینه منوره کې د کفارو په لاس له خوړل شــویو ټپونو شهید شــو. پیغمبر ﷺ د هغه جنــازه وکړه او په بقیع کې د یوه لوی صحابي عثمان بن مظعون ﵁ ترڅنگ خاورو ته وسپارل شو.

بېلتون دردناک و. حفصه ﵂ ځوانه وه چې کونډه شــوه. د مېړه په مړینه غمجنه شوه او زړه یې مات شو. خو خنیس ﵁ د خدای په لاره کې عزتمن مرگ موندلی و.

عمر ﵁ د خپلې لور لپاره چې په ځوانۍ کونډه شوه، خپه و. هرکله چې به د لور کور ته ورغی او هغه به یې غمجنه ترسترگو شوه، دردمنېدو. له ډېر فکر وروستو په دې هڅه کې شو چې د خپل لور ژوند له یو چا سره شریک کړي.

عمــر ﵁، ابوبکــر صدیق ﵁ ته د حفصې ﵂ د نــکاح خبره وکړه خو لــه هغه یې کوم ځــواب ونه موند. بیا یې عثمان ﵁ ته د هغــې د نکاح خبره وریاده کړه. خو عثمان ﵁ وویل چې په اوس وخت کې د واده په فکر کې نه دی. کله چې عمر ﵁ دغه کیسه پیغمبر ﷺ تــه وکړه، حضرت محمد ﷺ وفرمایل: له عثمان نه به بل څوک ښــه له حفصې ســره ازدواج کوي او عثمان به له حفصې نه له بلې کومې ښې سره ازدواج کوي.

وروستو حضرت محمد ﷺ له حفصې ﵂ څخه د نکاح غوښتنه وکړه.

پیغمبر ﷺ د هجرت په دریم کال، د احد له جنگ څخه مخکې له حفصې ﵂ سره واده وکړ.

حفصــې ﵂ د حضــرت محمد ﷺ ترڅنــگ د ژوند خوږې ورځــې تېرې کــړې. هغې به د پیغمبراکرم ﷺ په خوښی کې د هغه له نورو میرمنو سره سیالي کوله او له هرې لارې به یې هڅه کوله چې ورنه خوشال وي.

د مومنانو مور حفصه ﵂ په علم، فقه او تقوا کې مشــهوره وه. ډېروخت به داسې کېدل چې پلار به یې (عمــر ﵁) د خپل خلافت په وخت کې د هغې په فقهي رایو او نظریاتو تکیه کوله.

عمر ﵁ له حفصه ﵂ څخه پوښــتنه وکړه چې، یوه ښــځه ترڅومره وخت پورې د خپل مېړه لېرېوالی زغملی شي؟ ام المومنین ﵂ وویل چې څلوور یا شپږ میاشتې.

وروریــې عبدالله بن عمــر ﵁ چې په هر څه کې به یې د حضــرت محمد ﷺ پیروي کوله، له خپلې خور حفصه ﵂ هرهغه څه زده کول چې هغې د نبي کریم ﷺ په کور کې لېدلي وو.

له دې پرته، ابوبکرصدیق ﵁، حفصه ﵂ د هغه قرآن کریم د حفظ لپاره وگمارله چې دده په وخت کې راټول کړای شــوی و. هغې په خپل وخت کې د قرآن کریم ښــه قــرات درلود. هغه باتقــوا، پوهــه او روژه داره مېرمن وه. هغــې د پیغمبر ﷺ نبوي احکام تر نورو رسول.

کله چې د هغې پلار خلافت ته ورسېد، د هغې په ژوند کې یواځینی توپیر دا راغی چې خپله تقوا او عبادت یې لا ر ډېر کړ.

حفصه ﵂ بالاخــره د پیغمبر ﷺ څنگ تــه ورغله او په بقیع کې خاورو ته وســپارل شوه.

پر هغه دې د خدای رحمتونه وي.

# غـــزه سنگر مستحکم جهاد و مقاومت

**نویسنده:** مختار سادات

شک در این نیست که نو نهال سبز اسلام از همان آغاز اسلام با خون شهدای این امت آبیاری شده و ثمره‌ی تمام مجد و شکوه آن بر اثر ایثار، قربانی و خون شهدای امت به دست آمده است.

اما هرزگاهی که این امت با مفهوم و اصل قربانی و ایثار در مســیر حق فاصله گرفته و با آن بیگانه‌گی اختیار کرده، ذلت و خواری نصیب آن شده و دشمن بر آنان تسلط حاصل نموده.

امروزه ما در عصر قرار داریم که فتنه‌ها، امت را احاطه کرده و توده‌ی عظیم از این امت در دام مکر و حیله‌ی دشمن قرار گرفته‌اند که، بهای این خطای‌شان را آزاده‌گان امت می‌پردازند.

امت اســلامی در عصر حاضر در یک مرحله‌ی حساس و سر نوشت ســاز قرار دارد، زیرا معادلات کم کم بر وفق مرادشان رقم می‌خورد، که تحول در افغانســتان بعد ســوریه و حال هم مبارزات مجاهدین مدافع قدس و پیش قدمی‌شان در میدان جهاد در برابر صهونیزم مثال‌های واضح این ادعا است.

این مقطع زمانی از تاریخ برای امت باقی، یک مرحله‌ی نهایت مهم اســت، چون در لابه‌لای رخدادهای آن بوی پیروزی و بازگشت به مجد به مشام می‌رسد، زیرا این رخدادهای مهم با ریختن خون آزاده‌گاه و رادمردان این امت رقم می‌خورد.

اگر دیروز خون منصور در خاک افغان ریخت به شکست استکبار ناتو در افغانستان انجامید، یا اگر دیروز در سوریه خون ســاروت و صدها مجاهد دیگر ریخت به پیروزی انقلاب و جهاد مردم شــریف ســوریه انجامید و اگر دیروز و امروز خون هنیه، العروری، الســنوار، محمد الضیف و یاران با وفای آن خاک مقدس شام و فلسطین را گل‌گون نمود فردا به آزادی قدس و شکست صهیونیزم پلید خواهد انجامید و آخرین میخ بر تابوت سیاه این فکر پلید کوبیده خواهد شد.

شاید ما در این روز مبارک که دوباره فرزندان عمر، صلاح الدین و عز الدین کلیدهای اقصی را در دست بگیرند زنده باشیم و یا هم نباشیم، اما نسل‌های آینده این را به یاد داشته باشند که این پیروزی مدیون خون شیخ عز الدین، شیخ یاسین، هنیه، ســنوار، محمد الضیف و هزاران فلســطینی مظلوم اســت که رنج و ســختی را به خود گرفتند و این پیروزی را به نصرت الله متعال به ارمغان آوردند.

ممکن عده‌ی آتش بس میان حماس و اسرائیل را کم خردی سیاسی حماس تلقی کنند، اما باید بدانند که حماس بیشــترین تجربــه در شــناخت یهــود و صهیونیزم را دارد، به همین ســبب است که در تمام اعلامیــه های خود که بعد از آتش بس صادر شــده، دم از مقاومت و نابود ســازی یهــود زده و قدرت دروغین موســاد و اســرائیل را به چالش کشیده است.

بایــد گفت کــه حماس از همــه بهتر می دانــد کــه غــدر و خیانــت در خــون این ددمنشــان نهفته است و ناممکن است کــه این صفــت بــد از فطرت‌شــان زایل شود.




محمد الضیف و یاران با وفای او به هدف خویش که همانا شهادت است رسیدند و با خون خویش بیشتر از قبل بر حقانیت مبارزه‌ی خویش مهر تایید زدند و دیگر اینکه نه این اولین شهید امت است و نه هم آخرین آن خواهد بود، بلکه خون شهدا است که روح مبارزه و جهاد را در مجاهدین تازه‌گی می‌بخشد و سر مشق راه دیگران قرار می‌گیرد.

آنانی‌که شــهادت این بزرگ مردان را به معنی تضعیف حماس می‌دانند سخت در اشتباه اند، زیرا همواره خون شهداء بوده که برای این امت ظفر و پیروزی به ارمغان آورده.

خداوند متعال شــهادت محمد الضیف و تمام کسانی‌که در راه مجد و سربلندی این امت جان‌هــای خویــش را به درگاه حــق کرده‌انــد را در درگاه خویش قبول بگرداند و بهشــت فردوس را نصیب‌شان سازد.

**آمین یا رب العالمین!**

# پر کورنۍ د حلال عاید اغېز

**لیکنه:** صمیم

د انسان عقلي وده او بصیرت د هغه په تغذیه پورې اړه لري. ځکــه خو الله ج د همدې لپاره دنیــا ته علم را لېږلی چې مراد تــرې د حلالو او حرامو پېژنــدل دي. اړیو چې د دې تغذیې په لاسته راوړلو کې غور وکړو او خپله کورنۍ له بدمرغیو وژغورو.

دا چې د حلال عاید او کاروبار په تړاو ډېرلوی بحث ته اړتیا ده، نو لازمه ګڼو ترڅو هغو ارزښــتونو ته اشاره وکړو چې په یوه کورنۍ کې د نظم او نېکمرغۍ لامل ګرځي.

د حلالو عوایدو په تړاو ډېرې څېړنې شوي او همدا ګټه د یوې کورنۍ د روزنې لپاره یو له مهمو موضوعاتو څخه بلل کیږي.

حــلال عاید چې د یوې کورنۍ په نظم رامنځته کېدو کې مهم رول لري، په دې ســره د کورنۍ غــړي یقیني کیږي چې تغذیه یې حلاله، پاکه او له شــرعي اړخه مشروعیت لري او پر مټ یې له اندېښنو، سټرس او وجداني عذاب څخه خلاصیږي.

له ټولو مهمه دا چې حلال عاید د کورنۍ په مقام کې مرســته کوي. هغه کورنۍ چې پــه ټولنه کې حلال رزق ګټي د احترام او درناوي وړوي چې همدا احترام د دوی د ویاړ لامل ګرځي.

ځینې داسې ستونزې شته چې رسول (ص) یې د حل لاره، حلاله روزي ګڼل شودلي. ډېر خلک خپل ارمانونه او ورکې هیلې له ځان سره خاورو ته وړي. د همدې ترلو هیلو دروازې په حلال رزق پرانېستل کیږي.

حــلال عاید چې لــه دیني اړخه یو له مهمو مســایلو څخه دی، ویلای شــو چــې دا د یــوې کورنۍ روحي، اخلاقي او ټولنیز ژوند په پیاوړتیا کې مهم رول لوبوي.

له بده مرغه په ټولنه کې یو شــمېر خلک د روزۍ د تر لاســه کولو لپاره نــاروا کړنو ته لاره هــواروي، چې دا کړنه د ټولنې د ګډوډۍ، د اســلام د ډېرو قوانینو د پاشــلتیا او د حکومــت لــه ځینــو مقرراتــو څخه د سرغړونې لامل ګرځي.

کله چې موږ د خــدای ج اوامرو او احکامو ته په ژوره توګــه وګــورو، نو معلومه به شــي چې اســلام د ټولنــې او ژوند دین دی او په ټولــو برخو کې د زیار او اصلاح غوښتونکی دی.

ابــو حریر په یوه مقاله کې ویلي، انســان باید د هغو ســســتیو او ټمبلیو ســره جګړه وکړي چــې د فقر او اخلاقــي خرابیــو لامل ګرځي، خو هــر هغه څه چې موږ یې کوو خدای پرې باخبره دی.

نو ویلای شو، چې د هر انسان عقلي وده او بصیرت د هغــه پــه تغذیه پورې اړه لري. ترڅو چې بنده خپل رزق ته پاملرنه ونه کړي، نه شــي کولی خپل رب او معبود وپېژني او خپلې د دنیا او اخرت موخې تر لاسه کړي.



نــو کار او هڅو ته ارزښــت ورکول او له باطلو لارو ځان ژغــورل د کورنۍ او ټولنې په یووالي پورې تړلې ده. هغه څوک چې له حرامو لارو د کورنیو لګښــتونه پوره کوي حتمي ده، چې په اسلامي ټولنه کې به یې ارزښت له صفر سره ضرب وي.

# د سلطان محمود دیانت

**لیکوال:** داکتر نثار احمد صمد واصفي

نقل کا چې یو وخت ســلطان محمود غزنوي په ایران کی د شــیخ ابوالحســن خرقاني حضور ته پیغام ولیږی چی زه د غزني څخه ســتا د لیدو له پاره دغه ښــار تــه راغلی یم . نو لطفأ دلته راسه .

هیت ته یې وویل چی دغه آیت هم ورته تکرار کړه: واطیعو الله و اطیعو الرســول و اولی الامرمنکم ( النسأ ٥٩ ) یعنی د الله جــل جلاله او د هغه د رســول ص او د هغو کســانو اطاعت وکړی چی پر تاســو واکمن ټاکل سوي دي .

خو شــیخ په ځــواب کی ورتــه وویل چــی ما وبخښــۍ او محمــود ته ووایاســت چی پــه « اطیعــو الله » کی دومره ډوب یــم چــی د « اطیعو الرســول » څخه شــرمیږم، نو « اولی الامر » ته به څنګه ورځم؟!

هیت هم راغی او ســلطان ته یې دا قصه وکړه.

ســلطان محمود وپوهیدی او ږغ یې وکړ چی خرقاني د هغــو خلکو څخه نــه دی چی مــوږ ګومان کاوه . درځی چی ورځو .

ســلطان خپلي جامې ایاز ته واغوستې، خپل غشی و لینده یې ورکړل او توره یې هم ور وځړوله . د ایاز جامې یې د ازمایښــت له پاره پخپله واغوســتې. د شــیخ حجرې ته ورننوتل او ســلام یې ورته ووایه.

شــیخ ځواب ورکړ، خو له ځایه پورته نســو او خپل نظر یې راســأ ســلطان ته واړاوه او ایــاز ته یې هیڅ ونه کتل ( که څه هم شاهي لباس یې اغوستی و.)

محمود ورته وویل چی ســلطان ته پورته نسوې او د هغه درنښــت دې پر ځای نکړ. نو دا دام د څه له پاره دی؟ شــیخ وویل: دام سته، خو مرغه یې هغه نه دی. محمود هم کښېناســت او ورته وېې ویل: ماته د بایزید خبري وکړه.

شیخ وویل: بایزید ویلي دي هر چا چی زه په بدنیتۍ ولیدم، هغه کس به خوشبخت سی.

ســلطان وپوښــل: آیا د پیغمبر قدر ډېر دی که د بایزید؟ نو ابوجهل او نورو مشــرکانو ســره له دې چی هغه لیدلی دی، ولی بدبخت دي؟

شــیخ وویل: اې محموده! ادب ساته. په خپل ولایت کی تصرف کوه. مصطفی په هغه ډول چــی باید وپیژندل ســی، پرته له اصحابو چا نــه دی لیدلی او د خدای جل جلاله د قول له پاره دلیــل دی ( وتراهم ینظرون الیک وهم لایبصرون.)

د محمود دا خبره ډېره خوښــه ســوه، ورته وېې ویل : ما ته نصیحت وکړه. شــیخ ورته وویل: پرهیزګار اوسه، لمونځ کوه، سخاوت کوه او د خدای پر مخلوق باندی مهربان اوسه.

بیا یې ورته وویل: دعا راته وکړه. ورته وېې ویل : عاقبت محمود اوســې او بیا یې خپل کمیــس محمود ته د یادګار په توګه ورکړ.

سلطان د دې آیت معنی ځنی وپوښتله: تعز من تشاء وتذل من تشاء . او بیا یې وویل : زه هم کولای ســم خلکو ته عزت ورکړم یا هغوی خوار کړم .

شــیخ وویل: عزت او ذلت هغه دی، چی خدای جل جلاله ســتا په څېر لوی سلطان زما پــه څېر یو غریــب او بېچاره ته اړ کړي، چی دا دی دلته راغلی یې او دعا غواړې .

ســلطان هم چټی ځنی واخیســته او بیرته غزني ته روان سو ( د افغانستان تاریخ ٥٥٢ ـ ٥٥٣ ـ ٥٥٤ مخونه )


## ستاسو سوداګریزې خبرتیاوې

| | | |
|---|---|---|
| کابل | احمد بخت‌یار | +93 78 417 8050 |
| کندهار | احمد الله سمون | +93 70 857 3605 |
| هرات | محمد اسماعیل صفا | +93 70 674 9146 |
| بلخ | امان الله عادل | +93 77 910 0645 |
| ننګرهار | عزیز الحسن نعماني | +93 78 595 5216 |
| غزني | حفیظ الله بریال | +93 70 049 4491 |
| هلمند | حافظ احمد نصرت | +93 70 327 2828 |
| پکتیا | محمد عمر څواک | +93 76 505 9942 |
| بدخشان | بیک محمد احمدی | +93 79 025 3400 |
| کنړ | میوند سالارزی | +93 76 662 3300 |
| نیمروز | محمد عمري | +93 79 589 2691 |
| خوست | محمد الله سروري | +93 76 750 0493 |
| پکتیکا | سید الله څرګند | +93 77 588 1164 |
| زابل | عبدالقیوم عاجز | +93 70 807 0371 |
| ارزګان | فرید احمد مبارز | +93 74 829 9338 |

**یادونه:** خپل وړاندیز، نظر او شــکایت مو د حریت مرکزي دفتر ســره په دې شمېره شریکولی شئ:

0705885885 _ 0202302015

## اعلانات تجارتی شما




**برای نشــر اعلانات تجارتی تان به شماره های ذیل به تماس شوید.**


0705885885 _ 0202302015


# یو کتاب، څو خبرې

**لیکنه:** سیف الله قاسم

## نړیوالې اړیکې

د اسلامي قانون او معاصرو نړیوالو قوانینو پرتلیزه څېړنه




نړیوالــې اړیکې د اســلامي قانــون او معاصرو نړیوالــو قوانینو پرتلیــزه څېړنه د دوکتــور وهبه الزحیلــي رحمه الله لیکلی کتــاب دی. دا کتاب محمــد ظاهر عمار پښــتو تــه ژباړلی دی. پــه ١٣٩٥ لمریز کال کــې ګندهارا خپرندویــه ټولنې چاپ کړیدی. کتاب ٢٩٩ مخه دی چې په دوو بابونو کې یو ســلو شپږدېرش عنوانونه لري.

په دې کتاب د حقوقو د پوهنځي یوه اســتاد هم ســریزه لیکلې ده. دا ســریزه تر ډېره د کتاب له موضوعاتو ســره اړوند نه بریښــي او ددې ســریزې د لیکوال له ځینو نظریاتو ســره اختلاف کیدای شي. خو دده د معلوماتو له مخې (( د نړیوالو اړیکــو په برخه کــې له دیني اړخه دا کتاب په ټوله اســلامي نړۍ کې یو ډېر نادر او نایاب کتاب دی.))

ددې کتاب ژباړن ښــاغلی عمار لیکي:(( ستر مســلمان مفکر او فقیه علامه وهبه الزحیلــي رحمه الله په خپل دې کتاب کې د اســلام د نړیوالو اړیکو تصور، مفهوم، ارزښــت او عملي بېلګې وړاندې کړي او له معاصرو نړیوالو قوانینو سره یې پرتله کړي. له شــرعي نصوصو او د مســلمانانو د ویاړلي تاریخ لــه زرینو پاڼو یې د نورو دینونو له پیروانو ســره د ســولې، جګړې، ذمي تړون، امن تــړون، امان تړون او نورو تړونونو پر مهال د مسلمانانو د ښه چلند، پر عهد د وفا او همدردۍ ثبوتونه وړاندې کړي.))

ددې کتاب لیکوال علامه الزحیلي په ١٩٣٢ میلادي کال کې د دمشق د عطیه ښار پــه شــاوخوا کې زېږېدلــی دی. دده زیاتــره لیکنې فقهــي او د فقهــې اصولو ته ځانګــړې دي. ده خپلې لومړنۍ زده کړې په ١٩٥٢ میلادي کال کې د الشــریه په نوم پوهنتون کې بشپړې کړې. وروستو یې په مصر کې له الازهر پوهنتون څخه د الهیاتو په برخه کې دوکتورا ترلاسه کړه.

دی ددې کتاب په ســریزه کې لیکي چې که څه هم نړیــوال د خپلو اصولو یادونه کوي او شعار یې دا وي چې د انسان د خیر ښېګڼې لپاره معاملات ترسره کوي او ددې اصولو څارنه د نړیوالو ادارو پر غاړه وي، خو ددغه ډول ښــکاره سولې تر شا خطرناکې وسلې، پوځي قوت او جنګي وسایل پټ دي.

دی وایي، قرآن کریم چې مســلمانانو ته د مــادي او معنوي ځواک د تیارولو کوم امر کړیدی او جهاد یې د اســلام لوړه شوکه بللــې ده، ډېر پر ځای امر دی. ځکه په نننــۍ نړۍ کې د خبرو منلو معیار همدا دی او ځمکني حقیقتونه هم همدا دي.

ددې کتاب لیکوال علامه الزحیلي ددې کتاب په باره کې لیکي چې:(( په دې کتاب کې به د اسلامي شــریعت په رڼا کې د نړیوالو اړیکو اصول او ضوابط بیان شي او ترڅنګ به یې له نوي نړیوال قانون ســره پرتلنه هم وشــي. زمونږ کوشش به دا وي چې د ســولې او جګړې پــر مهال د نړیوالــو اړیکو د رامنځته کېدو اســلامي اصول روښــانه شــي او ترڅنګ به یې له فقهــي او تاریخي نظره په اسلام کې د تړونونو ځانګړې څېړنه وشي ترڅو دا ترې په ډاګه کړو چې په نبوي دور، راشده خلافت او ترې وروســته اســلامي حکومتونو کــې پر دې تړونونو څــه ډول عمل کېده؟))

ددې کتاب په لیکلو کې د جهاد، ســیرت او نړیوالو اړیکو پورې اړوند مســایلو لپاره له لسو ماخذونو یا سرچینو ګټه اخېستل شوېده.

ددې کتاب یو بحث د ( اسلام او تړونونه) په نوم دی. د تړونونو د جواز په باره کې لیکي چې: د شریعت له نصوصو د جګړې او امن په دواړو حالتونو کې له دښمن سره د تړونونو ترسره کولو جواز ثابت دی. الله تعالی د سورت انفال په ٦١ آیت کې فرمایي:

ژباړه: که دوی ســولې ته مایل شــول، نو ته هم ورته اماده شــه او پر الله تعالی توکل وکړه.

لیکــوال لیکي چــې تړونونه یواځــې د کاغذ تکرې نــه دي لکه اوســمهال چې په غیراســلامي هېوادونو کې ګڼل کیږي. د اســلام له اساســه تړونونه د دوکې او فریب ذریعې نه دي او نه هم هغه سوله تاییدوي چې په ظلم او بې عدالتۍ ولاړه وي. مســلمانان د اسلامي لارښوونو په اســاس پر خپلو تړونونو ژمن پاتې کیږي، ځکه چې دا د خدای امر دی چې د ســورت المایده په لومړني آیت کې فرمایي:

ژباړه: اې مومنانو! پر خپلو ژمنو وفا وکړئ.

دا کتاب د اســلام له نظره د نړیوالو اړیکــو په باب ډېر جالب بحثونه لري. په اوس وخــت کې چــې نړۍ یو نړیــوال کلی بلــل کیږي، اړتیــا ده چې مســلمانان په دې وپوهیږي چې د نړۍ له نورو اوســیدونکو ســره، د اسلام له اساسه باید څه ډول اړیکې ولري. په دې توګه مونږ کولی شــو چې هم د نړۍ له نورو هېوادونو ســره اړیکې ولرو او هم خپل لوی ارزښت(اســلام) وســاتو او هغه لارښوونې عملی کړو چې د خدای او پیغمبر له ارشــاداتو سره په ټکر کې نه وي.


حریت اسلامي او ملي پولو ته بشپړ احترام لري. د لیکنې مسؤولیت د لیکوال پر غاړه دی!

د امتیاز څښتن: حریت راډیو | مسؤول مدیر: محمدالله احساس | ډیزاینر: همدرد | ادرس: کابل، دارالامان | برېښنالیک: weekly@hurriyat.net

www.hurriyat.net | Hurraiyat radio pashto | @Hurriyatpa-radio | +(93) 705 885 885 | @Hurriyatpa | Hurriyatpa